## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**5دلو _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**


به ارزش بیش از یک میلیون دالر امریکایی، تفاهمنامه ها ی همکاری میان وزارت امور مهاجرین و هفت موسسه به امضا رسید 1

د وزارت د حقوقي ملاتړ رياست رييس د حقوقي ودې نړيوال سازمان له مسوولانو سره وليدل ------------------------2

رییس هماهنگی مساعدت ها، با هماهنگ کننده ارشد بخش محافظت اطفال، کمیته بین المللی نجات ملاقات نمود -------3

پاکستان څخه نږدې ۱۰۰ جبري راستنېدونکي کورنۍ له لومړنيو مرستو برخمنې شوې------------------------------4

آمرامورمهاجرین ولایت سرپل، با مسوولان سازمان بین المللی مهاجرت دیدارکرد ----------------------------------4

فراه کې ۳۰۰ څخه زياتو کورنيو سره نغدي مرسته وشوه --------------------------------------------------------5

برای ۱۱ خانواده، در ولایت بلخ مساعدت شد ----------------------------------------------------------------5

ایران څخه تر زرو زيات مهاجرين پخپله خوښه او په جبري توګه خپل وطن ته راستانه شول ----------------------6

بیش از ۳۰۰ تن مهاجر ازپاکستان طور اجباری به وطن برگشت نمود -------------------------------------------6

برېتانيا: لږترلږه ۱۳۰۰ کم عمره کډوال په غلطه د بالغو کسانو په توګه پېژندل شوي -------------------------------7

فرانسه: يخچالي لارۍ کې ۲۴ کډوال موندل شوي---------------------------------------------------------8

ضربه جدی به پیکر یک شبکه قاچاقبران در آلمان؛ شماری از اعضای آن بازداشت شدند---------------------------9

پارلمان هالند قانون جنجالی پناهندگی را تصویب کرد --------------------------------------------------------11

اخراج اجباری پناهجویان افغان از پاکستان؛ ۶۱ خانواده روز چهارشنبه به افغانستان برگشتند ---------------------13

دکډوالو چارو وزارت له ۷ بنسټونو سره د همکاريو تړونونه لاسليک کړي --------------------------------------13

# متن کامل اخبار

## به ارزش بیش از یک میلیون دالر امریکایی، تفاهمنامه ها ی همکاری میان وزارت امور مهاجرین و هفت موسسه به امضا رسید

ویب سایت وزارت



به ارزش یک میلیون و ۵ صدو ۶۳ هزار و ۱۲ دالر، تفاهم نامه ها ی همکاری با موسسات تعلیم برای اطفال و زنان افغان، خیریه بشری، اجتماعی و انکشاف اقتصادی بنیاد زنده گی، حمایت از معارف، اکشن اید، اجتماعی و انکشافی راه نوین و شورای مهاجرت ناروی به امضا رسید.

به اساس تفاهم نامه های یاد شده، شورای مهاجرت ناروی مبلغ ۶ صدو ۹۳ هزار و ۷۳۵ دالر را در بخش توزیع البسه زمستانی، کمک نقدی، مدیریت کمپ، ارجاع مستحقین به موسسات دیگر، ترتیب کرایه خط و پرداخت کرایه خانه برای یک هزار و ۴۹۰ خانواده در ولایات بلخ و سرپل به مصرف میرساند.

موسسه اجتماعی و انکشاف اقتصادی بنیاد زنده گی، مبلغ ۴ صدو ۴ هزار و ۶۴۴ دالر را دربخش آموزش های حرفوی، تعلیم وتربیه، مشاوره حقوقی و ایجاد محل ورزش برای یک هزار و ۲۲ خانواده در ولایت بدخشان، موسسه حمایت از معارف مبلغ یک صدو ۴۵ هزار و ۷۵۴ دالر را دربخش های توزیع مواد خوراکی و غیر خوراکی برای ۹۵۰ خانواده در ولایت بلخ، موسسه خیریه بشری مبلغ یک صدو ۳۷ هزار و ۷۱۳ دالر را در بخش کمک نقدی برای ۳۱۰ خانواده در ولایت هرات، موسسه تعلیم برای اطفال و زنان افغان مبلغ ۵۰ هزار دالر را در بخش های توزیع بسته های صحی و آموزش حفظ الصحه برای ۳۰۰ تن در ولایت نیمروز به مصرف میرسانند.

**به همین ترتیب موسسه اجتماعی و انکشافی راه نوین مبلغ ۷۵ هزارو ۱۶۶ دالر را در بخش توزیع مواد خوراکی برای ۲۰۰ تن در ولایات بغلان و کندز و موسسه اکشن اید به مبلغ ۲۰ هزار دالر را در بخش توزیع کمک نقدی برای ۵۰ خانواده در ولایت ننگرهار به مصرف میرسانند.**

**تفاهم نامه های یاد شده توسط مولوی محمد جان خدر خیل، رییس تشویق به عودت و سرپرست معینیت مسلکی وزارت امور مهاجرین و نمایند گان موسسات یاد شده به امضا رسید.**

## د وزارت د حقوقي ملاتړ ریاست رییس د حقوقي ودې نړیوال سازمان له مسولانو سره ولیدل

د وزارت ویب سایت



**د وزارت د حقوقي ملاتړ ریاست رییس الحاج نبي الله داد خېل ستانکزی د حقوقي ودې نړیوال سازمان د بهرینو اړیکو له مسوول ښاغلي عصمت الله ځدراڼ او مل پلاوي سره نن د سلواغې پر ۴ مه په خپل کاري دفتر کې ولیدل. په دې لیدنه کې د دواړو خواوو ترمنځ د افغان مهاجرینو د حقونو پر ملاتړ خبرې اترې وشوې.**
**ښاغلي ستانکزي وویل: د افغان مهاجرینو د حقونو ملاتړ یو انساني وجیبه ده او د دوی د حقونو غږ باید تر نړیوالو ورسېږي، چې مهاجرین له خپلو حقوقو ګټه واخلي.**
**هغه زیاته کړه، افغان مهاجرین د ګاونډیو هېوادونو په زندانونو کې بې ګناه بندیان شوي دي. پکار ده، چې د هغو حقونو ته د رسېدنې په برخه کې مرسته وشي، دغه راز له هغو څخه یې غوښتنه وکړه، چې د راستنېدونکو لپاره، چې د کابل هوايي ډګر څخه راستنېږي د مهاجرت نړیوال سازمان په نغدي مرستو کې دې ډېروالی راشي**
**ښاغلي ځدراڼ وویل: په تېرو څو میاشتو کې مو د دې وزارت فعالیتونه او کړنې ارزولې دي او موږ د افغان مهاجرینو د حقونو په برخه کې د نورو مرستو د وړاندې کولو په پار هڅه کوو، چې د مهاجرینو وزارت او د افغان مهاجرو پیغام نړیوالو ته ورسوو.**
**د لیدنې په پای کې دواړو لوریو پر لا نورو همکاریو ټینګاروکړ.**

## رییس هماهنگی مساعدت ها، با هماهنگ کننده ارشد بخش محافظت اطفال، کمیته بین المللی نجات ملاقات نمود

ویب سایت وزارت



**شیخ عبدالرحمن رحمانی، رییس هماهنگی مساعدت های وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، با آقای کیوین موراتی، هماهنگ کننده ارشد بخش محافظت اطفال، کمیته بین المللی نجات و هیات همراهش، ملاقات نمود.**

**در این ملاقات در مورد بهبود و تقویت بیشتر روابط و هماهنگی میان وزارت و آن نهاد، چگونگی در نظر گرفتن اولویت های وزارت، طرح و دیزاین پروژه های جدید آن کمیته غرض هماهنگی های بیشتر و تقویت و گسترش برنامه ها در جهت رسیده گی به مشکلات تبادل نظر صورت گرفت.**

**آقای رحمانی گفت: خدمت به مردم هدف ما است، کمک به افراد مستحق و مظلوم برسد، درمیان برگشت کننده گان اجباری از کشور های همسایه افراد مسن، مریض واطفال میباشد که به نیاز های اولیه اساسی ضرورت دارند.**

**وی افزود، افغان ها طی چهاردهه در کشور های همسایه بوده که فعلاً به طور جبری برگشت داده شده، که نیاز مبرم به کمک های بشری دارند.**

**آقای کیوین موراتی گفت: با همکاری و هماهنگی در جمع آوری ارقام افراد مستحق در راستای ارایه کمک ها ی اولیه و نیاز های اساسی با این وزارت میتوانیم در گسترش و تقویت پروژه ها سهم ارزنده را داشته باشیم.**

**وی افزود، با راه اندازی ارزیابی میتوانیم افراد مستحق را مشخص و شناسایی نمایم، تا باشد آنان از خدمات ما در آینده بهره گیرند.**

**انجنیر اجمل، آمر برنامه های استراتیژیک وزارت، که در این ملاقات نیز حضورداشته گفت: کمک ها در بدل کار برای مهاجرین ارایه تا باشد آنان تشویق شده با این حال، این چنین برنامه‌ها برای اشتغال‌زایی و همچنان کمک برای مستحقین مثبت می‌باشد.**

## پاکستان څخه نږدې ۱۰۰ جبري راستنېدونکي کورنی له لومړنیو مرستو برخمنې شوې

د وزارت ویب سایت

له پاکستان څخه ۹۸ کورنی چې ۳۳۱ تنه کېږي د ننګرهار، کندهار، نمیروز، کابل، هرات او پکتیکا ولایتونو له پولو په جبري توګه د سلواغې پر ۳ مه راستني او له لومړنیو خدمتونو څخه برخمنې شوې

۹۸ کورنی چې ۳۳۱ تنه کېږي ثبت او بایومتریک شوې، ۴ کورنی چې ۲۳ تنه کېږي خپلو اصلي مېنو ته ولېږل شوې او د لارې کرایه هم ورکول شوه، ۵۰ کورنیو سره نغدي مرسته وشوه، ۱۵۲ کورنی په موقتي کمپونو کې ځای پر ځای شوې، د ۸۹۴ تنو درملنه وشوه او د ګومارل شوو کمېټو له لوري ۳۸۸ سیمکارتونه، چمتو شوو خوړو کڅوړې، د څښلو اوبه او د ژمني پوښاک کڅوړې ووېشل شوې.

دغه راز د د اطلاعاتو کمېټې او د امربالمعروف د محتسبینو له لوري دغو کورنیو ته د نوملیکنې، لېږد، مالي مرستې، لندمهالو استوګنې، د هېواد او اسلام نظام پېژندنې، هجرت، صبر او زغم او د ښوونې او روزنې په اړه ګټور معلومات ورکړل شول

لسګونه تنه چې مسلکي او حرفوي اسناد يې درلودل، وپېژندل شول او راستنېدونکو ماشومانو ته له چاودېدونکو توکو څخه د ساتنې، پاکوالي او د ورته نورو اړینو مسایلو په اړه پوهاوی ورکول شو او د رواني روغتیا لپاره ورته د لوبو او تفریح پروګرامونه هم برابر شول.

## آمرامورمهاجرین ولایت سرپل، با مسوولان سازمان بین المللی مهاجرت دیدارکرد

ویب سایت وزارت



به اساس گزارش آمریت امورمهاجرین وعودت کننده گان ولایت سرپل، مولوی عبدالسلام هاشمی آمرمهاجرین آن ولایت با مسوولان سازمان بین المللی مهاجرت بتاریخ 3 دلو دیدار نمود.

دردیدرا ابتدا مسوولان دفتر متذکره در زمینه پروژه سیستم پیگیری بیجا شده گان داخلی و عودت کننده گان در قریه جات مرکز ولایت سرپل و ولسوالی ها که در آینده آغاز خواهد شد معلومات ارائه نمودند.

امر امور مهاجرین خواهان رسیده گی به وضعیت عودت کننده گان اجباری کشورهای پاکستان و ایران با همکاری و هماهنگی آمریت مهاجرین شد.

مسوولان سازمان بین المللی مهاجرت و عده همکاری همه جانبه را در هماهنگی آن آمریت در زمینه رسیده گی به وضعیت بیجا شده گان و عودت کننده گان نمودند .

## فراه کې ۳۰۰ څخه زیاتو کورنیو سره نغدي مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت




د فراه ولایت د مهاجرینو ریاست د مرغومي پر ۳ مه ۳۱۶ تنو سره د نغدي مرستي د وېش خبر ورکړی

دغه کورنی پخوا د فراه په ولسوالیو کې اړمنې پېژندل شوې وې او ۱۹۵ کورنیو هرې یوې سره په دوو برخو کې ۹ زره او ۸۰۰ او ۱۹ زره او ۶۰۰ افغانۍ مرسته د ډنمارک د مهاجرت شورا له خوا او ۱۲۱ کورنیو هرې یوې سره ۱۸ زره او ۷۰۰ افغانی د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ له خوا مرسته وشوه.

## برای ۱۱ خانواده، در ولایت بلخ مساعدت شد

ویب سایت وزارت



ریاست امور مهاجرین ولایت بلخ از توزیع کمک نقدی، خوراکی و غیر خوراکی برای ۱۱ خانواده برگشت کننده اجباری درآن ولایت به تاریخ ۳ دلو خبرداد.

کمک مذکور برای هر خانواده ۱۰ قلم مواد خوراکی وغیر خوراکی و مبلغ 3 هزار افغانی از جانب کمیته حالات اضطراری در آن ولایت توزیع شد.

## ایران څخه تر زرو  زیات مهاجرین پخپله خوښه او په جبري توګه خپل وطن ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت

په ایران کې مېشت یو زر ۲۰۱ مهاجرین پرون د سلواغې پر ۳ مه د هرات د اسلام کلا له پولې په جبري توګه خپل هېواد ته راستانه شول

د اسلام کلا د سرحدي آمریت د راپور له مخې له راستنېدونکو څخه ۵۵۱ تنه اړمن وپېژندل شول او د نورو مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور وپېژندل شول چې خوراکي او غیر خوراکي توکي یې ترلاسه کړل.

دغه راز ۵۱کورنیو ته لس لس زره افغانۍ ورکول شوې، ۵۳ بې سرپرسته ماشومان د وارچایلډ موسسې ته ور وپېژندل شول او ۳۳ تنو ته د ګومارل شوې کمېټې له خوا په وړیا ډول یو یو سیمکارت ووېشل شو

او ۳۲۰ تنه نور له روغتیایي خدمتونو څخه برخمن شول.

## بیش از ۳۰۰ تن مهاجر ازپاکستان طور اجباری به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت

۳۰۱ تن مهاجر افغان به تاریخ ۳ دلو از مرز های تورخم و سپین بولدک به کشور برگشت نموده اند.

به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار ۲۸ خانواده شامل ۱۴۳ تن طور و ۵۷ تن افراد آزاد شده از حبس از محابس پاکستان طور جبری از مرز یاد شده عودت نمودند، و پس ازثبت اداره مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی سازمان ملل متحد، سازمان جهانی خوراک و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.

برای هر خانواده مبلغ 10 هزار افغانی از جانب کمیته موظف نیز توزیع شد.

**به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار ۲۱ خانواده که شامل ۱۰۱ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند و بعد از ثبت درداراه امور مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.**

## بریټانیا: لږترلږه ۱۳۰۰ کم عمره کډوال په غلطه د بالغو کسانو په توګه پېژندل شوي

مهاجرنیوز




**د بشري حقونو د درېو سازمانونو د یوه تازه راپور له مخې د ۲۰۲۲ د جنورۍ څخه د ۲۰۲۳ تر جون پورې سلګونه کم عمر لرونکي کډوال د برېټانیا د کورنیو چارو وزارت له خوا په غلطه د بالغو کسانو په توګه پېژندل شوي دي. په راپور کې راغلي دي چې یاد کسان بالغو کسانو ته ځانګړي شویو مراکزو کې ځای پر ځای شوي او یا توقیف خانو ته استول شوي دي.**

**د برېټانیا د کډوالو شورا، هلن بامبر بنسټ او د بشري حقونو شبکې یوه څېړنه ښیي چې د ۱۸ میاشتو په موده کې - د ۲۰۲۲ د جنورۍ څخه د ۲۰۲۳ تر جون پورې - لږترلږه ۱۳۰۰ کم سنه پناه غوښتونکي په غلطه د کورنیو چارو وزارت له خوا د بالغو کسانو په توګه پېژندل شوي دي. د راپور له مخې، دغه کډوال بالغو کسانو ته ځانګړي شویو استوګنځیو او یا د بالغو مهاجرو توقیف ځایونو او زندانونو ته استول شوي دي.**

**په دغه راپور کې چې «جبري بلوغ» نومېږي راغلي دي، د بالغو کسانو په مراکزو کې د کم عمره مهاجرو ساتل کولی شي چې د دغو کډوالو ژوند له جدي ګواښ سره مخ کړي.**

د راپور چمتو کوونکو لیکلي دي، د هغو ۸۴۷ پناه غوښتونکو له ډلې چې د تولنیزو کارکوونکو له خوا د بالغو کسانو په توګه پېژندل شوي تر نیمایي زیات یې ماشومان وو او په غلطه د بالغو کسانو مراکزو ته استول شوي وو.

په ځینو مواردو کې ۱۴ کلن ماشومان له بالغو مهاجرو سره په یوه کوټه کې ځای پر ځای شوي وو. همدارنګه ۱۴ کم عمره کډوال د چارواکو له خوا تر متخلف بلل کېدو وروسته هغو زندانونو ته استول شوي وو چې بالغ کسان پکې ساتل کېدل.

جدي «ناکامي«

په ۲۰۲۲ کې یو ماشوم کډوال چې د بالغو کسانو استوګنځي کې یې ژوند کاوه په چړو وهل شوی او یو بل ماشوم بیا له جنسي ځورونې سره مخامخ شوی و. د راپور له مخې ډېری دغه ماشومان روحي ستونزو سره لاس او ګرېوان دي او ځان وژونکي افکار لرلی شي.

د کډوالو شورا مشر انور سلومون ویلي دي: «د کورنیو چارو وزارت د غلطو تصامیمو له کبله ماشومان له خطر او ناوړه ګټه اخیستنې سره مخ دي». نوموړی دا حالت د حکومت جدي «ناکامي» بولي او وایي چې چارواکي باید د ماشومانو د خوندیتوب په برخه کې بېړني اقدامات وکړي.

همدارنګه د بشري حقونو شبکې مشرې مدي هاریس ویلي دي دوی له سلګونو هغو ماشومانو سره مرکه کړې چې په غلطه د بالغ کسانو مراکزو او یا زندانونو کې ساتل شوي دي .په وینا یې په دې ډله کې ۱۴ ماشومان هم دي چې ۷ میاشتې یې له بالغو کسانو سره یو ځای په زندان کې تېرې کړې او سخت شوک یې لیدلی دی.

دا هم ولولئ

<u>برېتانیا: نږدې ۹۰۰ کم عمر لرونکي کډوال په غلطه د بالغو کسانو په توګه پېژندل شوي دي</u>

بل پلو بیا د کورنیو چار وزارت یو ویاند ویلي چې د کډوالو د عمر معلومول سخت کار دی او په دې برخه کې کوم ځانګړی او دقیق متود نشته. نوموړي زیاته کړې ده چې زیات شمېر کسان ځان د ماشومانو په توګه معرفي کوي خو اسناد او شواهد ورسره نشته. دغه چاروکي ویلي دي حکومت په پام کې لري چې د عمر د معلومولو ملي بورډ جوړ کړي او پکې له ساینسي متدونو څخه کار واخلي.

## فرانسه: یخچالي لارۍ کې ۲۴ کډوال موندل شوي

مهاجرنیوز




**د فرانسې د کالې په بندر کې امنیتي چارواکو په یوه یخچالي لارۍ کې ۲۴ کډوال موندلي دي .همدارنګه د موټر چلوونکی د انساني قاچاق په تور نیول شوی دی.**

**د <u>نور لیتورال</u> ورځپاڼې د خبر له مخې فرانسوي چارواکو د سه شنبې په ورځ د جنورۍ په ۲۳مه کالې بندر کې په یوه یخچالي لارۍ کې ۲۴ کډوال وموندل چې د اریتریا اصلي اوسېدونکي دي. د موندل شویو کسانو په ډله کې ۵ ښځې هم دي. ویل کېږي چې دغو کسانو غوښتل د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېتانیا ته ورسوي.**

**په راپور کې راغلي دي چې په لارۍ کې دننه د هوا د تودوخې درجه ۴ وه او چا ته زیان نه دی رسېدلی.**

**چارواکو د لارۍ چلوونکی چې د ایټالیا تبعه دی د کډوالو د قاچاق په تور نیولی او سرحدي پولیسو ته یې سپارلی دی.**

**وروسته له هغه چې په ۲۰۱۸ کې کالې او مانش تونل کې امنیتي تدابیر زیات شول، هر کال ګڼ شمېر کډوال هڅه کوي چې په کښتیو کې د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېانیا ته ورسوي. خو کارپوهان وایي چې ځینې مهاجر د پیسو د نه لرلو له امله لا هم په لاریو کې برېتانیا ته د اوښتو هڅه کوي.**

**دا هم ولولئ**
**<u>فرانسه: یا دو کالې کې له یوه موټر څخه ۴۰ کډوال موندل شوي</u>**

## ضربه جدی به پیکر یک شبکه قاچاقبران در آلمان؛ شماری از اعضای آن بازداشت شدند

مهاجرنیوز




در یک ضربه موثر به یک شبکه مظنون به قاچاق انسان، چند نفر در آلمان بازداشت شدند. گفته می‌شود که این شبکه، انسان‌ها را در "وضعیت غیرانسانی و خطرناک" به آلمان قاچاق می‌کرده است.

به گفته لوی سارنوالی دریسدن و پولیس فدرال در هاله (زاله) این شبکه، قاچاق دست کم ۱۱۵ تن را به آلمان سازمان دهی کرده است. تحقیقات پولیس به ظن قاچاق سازمان‌دهی شده دست کم هفت خارجی توسط یک باندبه جریان افتاده است. دو شهروند سوریه به ظن دست داشتن در این سازمان‌دهی در شهرهای لایپزیگ و شواین‌فورت بازداشت شدند.

بیشتر بخوانید :آلمان: کاهش ورود غیرمجاز پس از آغاز کنترول های مرزی

پولیس تحقیقاتش را بالای پنج شهروند مظنون سوریایی متمرکز کرده است که بین ۱۹ تا ۲۶ ساله هستند. گفته می‌شود که آن ها از ماه جون سال ۲۰۲۳ قاچاق انسان را آغاز کرده اند.

گفته می‌شود که آن ها رانندگانی را جذب کرده اند که مهاجران را در صربستان یا در اسلواکیا سوار کرده و به آلمان انتقال داده اند.

مرتبط:پارلمان آلمان قانون تسهیل اخراج را تصویب کرد

به گفته ماموران تحقیق شرایط انتقال این افراد «غیرانسانی» و «بسیار خطرناک «بوده است. بر این اساس قاچاقبران شمار زیادی از انسان ها را در بخش بارگیری وسایط نقلیه سربسته جابجا می‌کردند. در میان آن ها مادرانی هم بودند که فرزندان‌شان هنوز دو ساله نشده بودند.

**در جریان پنج ماموریت بازرسی در لایپزیگ، شواینفورت و ترویسدورف، اسناد و تیلفون های هوشمند ضبط شدند .این عملیات هم‌آهنگ نیروهای آلمانی در ایالت‌های زاکسن، بایرن و نوردراین وستفالن صورت گرفت.**

**یک قاضی مسئول تحقیق قرار است روز چهارشنبه (۲۴ جنوری ۲۰۲۴) در این باره تصمیم بگیرد که آیا افراد دستگیرشده باید به بازداشتگاه‌ها منتقل شوند یا خیر.**

## پارلمان هالند قانون جنجالی پناهندگی را تصویب کرد

مهاجرنیوز

**قانون توزیع عادلانه پناهجویان در هالند، با وجود مخالفت شدید از سوی احزاب راست افراطی، از مانع نهایی پارلمان عبور کرد و تصویب شد. بر این اساس مقام های محلی در صورت ضرورت مجبور به پذیرش پناهجویان هستند .**

**مجلس سنای هالند روز سه شنبه (۲۳ جنوری ۲۰۲۴) با اکثریت قاطع به یک قانون جنجالی پناهندگی رأی مثبت داد . تطبیق این قانون تضمین می‌کند که پناهجویان به گونه عادلانه در سراسر این کشور تقسیم شوند.**

**در بخشی از آن تصریح شده است که در صورت لزوم، مقام‌های محلی مجبور خواهند شد که پناهجویان را در مناطق شان بپذیرند.**

**مجلس عوام یا مجلس نمایندگان، سال گذشته به این قانون رای مثبت داده بود. احزاب راست افراطی به گونه ویژه، با این قانون به شدت مخالف هستند. این جناح‌های سیاسی خواهان کاهش شدید پناهجویان تازه وارد هستند.**

**<u>هالند: کشتی گردشی تبدیل به اقامتگاه پناهجویان می شود</u>**


**افزون بر این، با تصویب این قانون مذاکرات کنونی بین چهار حزب راست گرا برای تشکیل حکومت ائتلافی پیچیده می شود. به ویژه گیرت ویلدرز، پوپولیست جناح راست از "مشکل بزرگ" در مذاکرات صحبت می‌کند. او در انتخابات پارلمانی اکتوبر سال گذشته پیروز شد و مایل بود که نخست وزیر جدید شود.**

**چهار شریک بالقوه ائتلاف قبلاً اعلام کرده بودند که می‌خواهند هجوم مهاجران را به شدت کاهش دهند. اما در کمال تعجب، اعضای پارلمان از حزب محافظه‌کار لیبرال خلق برای آزادی و دموکراسی (VVD) تصمیم گرفتند برخلاف میل رهبری حزب خود به این قانون رأی مثبت دهند.**

**بیشتر بخوانید:<u>بحران مهاجرت و کمبود مسکن در هالند</u>**

**در سال گذشته، حدود ۵۰ هزار پناهجو وارد هالند شدند. اکثر این افراد بستگان افرادی هستند که قبلاً پذیرفته شده بودند.**

**با این حال، مراکز پذیرش پناهجویان با مشکل جدی کمبود اقامتگاه روبرو هستند .کمبود مسکن نه فقط در این بخش بلکه در سراسر هالند یک مشکل جدی است. بسیاری از شهرداری ها از اسکان دهی موقت افراد خودداری می کنند.**




د ۲۰۲۳ په ډېسمبر میاشت کې یوه مال وړونکي رېل ګاډي کې د اورلګېدنې له امله یو کډوال خپل ژوند له لاسه ورکړ .د چارواکو په خبره پېښنه هغه مهال رامنځته شوه چې یو شمېر کسانو چې د رېل اسټېشن پلټفورم کې ولاړ وو هڅه وکړه یوه اورګاډي ته وخېژي چې له امله یې برقي شوک او ورپسې اورلګېدنه رامنځته شوه.

همدارنګه د نومبر په ۱۶مه کالې ښار ته نږدې د اې ۱ پر لویه لاره شاوخوا ۱۵ کډوال تر روان موټر لاندې شول چې له امله یې دوو کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ او څلور نور ټپیان شول. له دغې پېښې وروسته د پولیسو یوې سرچینې رسنیو ته وویل، یاد کسان هغه مهال تر موټر لاندې شول چې د سړک پر غاړه یې پیاده مزل کاوه .

په یوه بله پېښنه کې دنکرک ښار ته څېرمه د روان کال په سپټمبر میاشت کې یو کډوال له اورګاډي سره د ټکر له امله خپل ژوند له لاسه ورکړ.

په جولای میاشت کې بیا د کالې ښار پر لویه لاره یو تن کډوال له لارۍ موټر څخه تر غورځېدو وروسته مړ شوی و. که څه هم ژغورونکو دغه کډوال د کالې روغتون ته انتقال کړ، خو هغه د خپلو ټپونو له امله په روغتون کې ساه ورکړه.

**له دې پېښې دوه میاشتې مخکې یو ۲۵ کلن کډوال چې هڅه یې درلوده لارې ته وخېژي، ترې وغورځېد او تر موټر لاندې شو .په همدې میاشت کې یو بل کډوال کالي ښار کې تر لارۍ موټر لاندې شو او خپل ژوند یې له لاسه ورکړ. دا پېښنه هغه وخت رامنځته شوې وه چې دغه کس غوښتل له سړک څخه تېر شي.**

## اخراج اجباری پناهجویان افغان از پاکستان؛ ۶۱ خانواده روز چهارشنبه به افغانستان برگشتند

رادیوآزادی



**جریان برگشت مهاجران افغان از پاکستان به افغانستان**

**در ادامه اخراج اجباری پناهجویان افغان از پاکستان دیروز چهارشنبه ۶۱ خانواده دیگر به افغانستان برگشتند.**
**از این جمله ۲۸ خانواده از مسیر تورخم و ۳۳ خانواده از سرحد سپین بولدک داخل افغانستان شدند که تعداد آنها به ۲۵۵ نفر می رسد.**
**کمیته تعیین شده امارت اسلامی افغانستان برای عودت کنندگان گفته است که به مهاجرین برگشته یک اندازه کمک کرده است ولی در این مورد جزئیات نداده.**
**نظر به گزارش ها تعداد مهاجرین که در ۴ ماه گذشته از پاکستان اخراج شده اند از ۵۰۰ هزار نفر گذشت.**
**پاکستان در ماه نوامبر پروسه رد مرز یک میلیون و ۷۰۰ هزار مهاجر بدون اسناد افغان را از خاک این کشور آغاز کرد.**

## دکډوالو چارو وزارت له ۷ بنسټونو سره د همکاریو تړونونه لاسلیک کړي

راديوسپوژمی



د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت په یوه خپره کړې خبر پاڼه کې ویلي، چې له ۷ بېلابېلو بنسټونو سره یې د څه باندې یو نیم میلیون ډالرو په ارزښت د همکاریو تړونونه لاسلیک کړي دي. د خبر پاڼې د مالوماتو له مخې دغه تړونونه د افغان ماشومانو او ښځو له تعلیمي موسسې، د خیریه بشري، د ژوند ټولنیزې، اقتصادي او پراختیایي موسسې، له پوهنې څخه د ملاتړ، اکشن اېډ، راه نوین او د ناروې د کډوالو شورا سره د همکاریو تړونونه لاسلیک شوي دي.

د یادو تړونونو پر بنسټ به دغه موسسې یو میلیون ۵۶۳ زره ۱۲ ډالر په بلخ، سرپل، بدخشان، هرات، نیمروز، بغلان، کندوز او ننګرهار ولایتونو کې له اړمنو کورنیو سره د نغد پیسو، خوراکي او غیر خوراکي توکو د مرستو سربېره اړمنو کورنیو ته د کورونو کرایه کولو په برخو کې لګول کېږي.